آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۲/۱۱

# د مُسکا باران

ته دي د شوندو وریځ نه
د مُسکا ښه باران را ووروه

زما د شګلن ژوندون
همیش شوره زار
ستا د مُسکا باران ته
له څو کلو راهیسي
په ورو سترګو سره

ستا د ښکلا
د آسمانو
دا اوږدې لارې څارې

۲۰۰۲/۰۱/۰۹، هیدرسلیف، ډنمارک








افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ